

# د ډېرو لپاره - نه د لږو لپاره!

Pashto

هر کس باید مساوي فرصتونو ته لاسرسی ولري ترڅو هم بریالی شي او هم د اړتیا په صورت کې مرسته ترلاسه کړي. دا هغه څه نه دي لکه څنګه چې نن ښکاري. د ښو شیانو لویه حصه د هغه چا په برخه کیږي چې مخکې له مخکې ډېر څه ولري. موږ په محلي، ملي او نړیواله کچه یوې مناسبې او د چاپېریال له پلوه صمیمي ټولنې ته اړتیا لرو. موږ غواړو ناروېژي ټولنه په ښه توګه خوندي وساتو - لږ تفاوت، د بېکارۍ ټیټه کچه، او پیاوړې ټولنې. موږ باید بېلاوالی راکم کړو، هوساینه پیاوړې کړو او له فقر سره باید مبارزه وکړو.

اقلیمي کړکېچونو او د طبیعت ویجاړیو زموږ ښېږ راتلونکی له ګواښ سره مخ کړی دی، څکه چې لندمهاله ګټو ته په چاپېریال لومړیتوب ورکول کیږي. هغو کړکېچونو ته ځواب چې موږ اوس ورسره مخ یو باید جامع وي او د چاپېریال او صنعت لپاره د یوه مناسب پلان اړتیا ده. دا سې یو پلان چې په مرسته یې دوامداره پالرنه وشي، صنایعو ته به په راتلونکو کارونو کې مسئولیتونه او دندې وسپاري. موږ به ناروې په داسې یو مخکښ هېواد باندې واړوو چې نړۍ د چاپېریال ساتنې له پلوه د یوه صمیمي او د اقلیم له پلوه په یوه دوستانو مسیر رهبري کړي.

دا د یوې ښېړې نوې پالیسۍ وخت دی. داسې پالیسي چې وکولای شي اقلیمي کړکېچونو ته ځوابووایي او په ورته وخت کې غیر مساوات راکم او له بېکارۍ سره مبارزه وکړي. د مناسب زرغون تغیر لپاره د SV پلان د هیلې او بدلون په اړه دی. موږ به بېلوالی راکم کړو، صنعت ته به پراختیا ورکړو او ګټې او خندونه به سره شریک کړو. ورپسې موږ باید هغه پیکه، غیر ټولنیزې او درندې پالیسۍ پرېږدو چې حکومت یې تعقیبوي. موږ به دا هېواد د ډېرو لپاره زرغون کړو – د بې ذوقه او لږو لپاره نه.

**Sosialistisk Venstreparti**
Hagegata 22, 0653 Oslo
21 93 33 00
post@sv.no
sv.no